# اوریګون د
# نفرت
# پروړاندي
# ودریږي

## موږ سره وغږیږئ

دا که تاسې سره پیښ شوي وي یا هم کوم بل چا سره، موږ ټول کولی شو د نفرت او تعصب پیښو تعقیبولو کې مرسته وکړو.

غیر بیړنی هاټلاین
1-844-924-BIAS (2427)
د ټروما په اړه پوهه لرونکي آپریټران له دوشنبه تر جمعه، د سهار 9 تر ماښګر 5 بجې په تیارسۍ کې وي.
موږ د ریلی ټول ټلیفونونه قبلوو
په +240 ژبو کې ژباړه

یا تاسې کولی شئ آنلاین هرکله موږ ته راپور راکړئ:

StandAgainstHate.oregon.gov

هغه څه چې تاسې
اړ يي د اوریګون د
نفرت جرمونو او
د تعصبي پیښو
د قوانینو په اړه
وربا ندې وپوهيږئ



## اوریګون د نفرت او تعصب پروړاندې ودریږي.

زموږ ایالت او قوانین د شمولیت، قبولیت او مدنیت لپاره ودریږي. د تعصب او تبعیض، هوموفوبیا او بهرنیانو څخه د کرکې پروړاندې. د هرډول تاوتریخوالي او ویرې پروړاندې.

موږ یوځای ودریږو. د ډیټا غوره تعقیبولو او د هغې څخه چې څه موږ زده کوو د هغو د شریکولو په موخه د نوي لارو لپاره. د پاتې شویو لپاره ډیر ملاتړ. او د قانون تنفیذ لپاره ډیرې سرچینې. نو موږ کولی شو ریښتینی توپیر رامینځته کړو.

دا زموږ د راتلونکي لپاره دریدل دي. ترڅو هیڅ څوک د نفرت جرم قرباني نشي. د هغوی د محافظت شوي **ټولګې په پام کې نیولو پرته: نژاد، دین، رنګ، د جنډر شناخت، جنسي لیدلوری، معیوبیت یا ملي اصل.** او هرڅوک خوندي دی، هرکلی یې کیږي او څوک چې اوسي آزاد دي.

**څکه چې موږ ټول د اوریګون یو. او ودریدل هغه څه دي چې موږ یې کوو.**


Oregon Dept. of Justice's
Civil Rights Unit
1162 Court St. NE
Salem, OR 97301
503-378-6324


Pashto Edition

# نفرت په ډېرېدو دی. نه یوازې په اوریګون کې، بلکه په ټول هیواد کې، د نفرت جرمونو او تعصبي پېښو کې ډېروالی راغلی دی. دا باید بند شي.

## د اوریګون قوانین:

په 2019 کې، اوریګون خپل د نفرت جرم شته قوانین تازه کړل چې محافظت پراخه کړي او د راپور ورکول ښه شي ترڅو په اوریګون کې هرڅوک په خپله ټولنه کې د خوندیتوب احساس وکړي.

## د تعصب پربنسټ جرم څه شی دی؟

په اوریګون کې د نفرت پربنسټ جرم قانوني نوم د **تعصب پربنسټ جرم** دی. دا لاندې موارد غیرقانوني دي:

- **د یوه فرد، د هغه د کورنۍ یا د هغوی د ملکیت ګواښل**
- **د ملکیت تخریب کول، مداخلت کول یا ورانول**
- **برید یا کوم چا ته لاس وراچول**
- **د یوه فرد پروړاندې د وسلې کارول**

د فرد د واقعیي یا انګیرل شوي محافظتي ټولګې پروړاندې د هرډول تعصبي انګیزې پربنسټ.

جرم + د تعصب پربنسټ انګیزه = د نفرت جرم

## تعصبي پېښې: هغه څه دي؟

په اوریګون کې، **تعصبي پېښه** د دښمنۍ څرګندولو په توګه تعریف کېږي چې ممکن انګیزه یې د بل فرد واقعیي یا انګیرل شوی **نژاد، رنګ، معیوبیت، دین، ملي اصل، جنسي لیدلوری یا د جندر شناخت وي**. دا لفظي، فزیکي یا بصري کیدی شي.

د عام تعصبي پېښو مثالونه دي:

- **د نژاد پرست، ملیتي، همجنس پرستی ضد، یا ټرانس فوبیک توهین کارول**
- **د نفرت ډکه وینا کول**
- **د فزیکي یا رواني معیوبیت لرونکي کوم چا ریشخند کول**
- **توهیني "ملنډې"**
- **کوم چا ته ویل چې ته د دې هیواد نه یې**

که څه هم تعصبي پېښې جرم ندی، خو د مدني حقونو سرغړونه کیدی شي او باید راپور یې ورکړل شي.

## د نفرت راپور ورکول: ولې دا کار وکړئ؟

د نفرت جرمونو او د تعصبي پېښو راپور ورکول د هرچا لپاره د خوندي ځای رامینځته کولو کې مرسته کوي.

د تعصب غبرګون هاټلاین د دې لپاره طرحه شوی دی:

- **د پاتې شویو ملاتړ**
- **داسې خدمتونو ته د پاتې شویو راجع کول چې وکولی شي مرسته وکړي**
- **د ډېټا تعقیبول**

## تبلغ عن حادثة

يسهل الخط الساخن السري للاستجابة للانحياز في كافة أنحاء أوريغون الإبلاغ عن جميع حالات الكراهية والانحياز، سواء أحصلت ضدك أم ضد شخص آخر.

اتصل على خطنا الساخن للحالات غير الطارئة على الرقم 1-844-924-2427 للتحدث مع أحد مستشاري الحوادث المطلعين.
الاثنين – الجمعة 9 صباحاً –5 عصراً
وستتلقى الرسائل الرد في حال الاتصال بعد ساعات العمل.
نستقبل جميع المكالمات المحولة
تتوفر الترجمة لأكثر من 240 لغة

يرجى زيارة StandAgainstHate.Oregon.gov للإبلاغ في أي وقت.

